عمومي اسامبله
د امنیت شورا

خپرونه: عمومي
۶ دسمبر ۲۰۱۲

اصل: انګلیسي

عمومي اسامبله
شپږ اويايمه ناسته
د اجنډا ۳۸ ماده
د افغانستان وضعیت

د امنیت شورا
شپږ اويايم کال

# د افغانستان وضعيت او پر نړيواله سوله او امنيت يې اغيزې

### د عمومي منشي راپور

## لومړی. پيژندنه

۱. دغه راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۶ پريکړه لیک او د امنیت شورا د ۲۰۴۱ (۲۰۱۲) پريکړه لیک په تعقيب، په کوم کې چې شورا له ما څخه غوښتلي و، څو په هرو دريو مياشتو کې د افغانستان د پرمختګونو او تحولاتو په اړه راپور ورکړم، وړاندې کيږي.

۲. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر پر ۱۳ نېټه زما د پخواني راپور (A/67/354-S/2012/703) راهيسې، دغه راپور د سياسي، بشري، پرمختيايي او بشري حقونو د هڅو په ګډون، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعاليتونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي. دغه راپور همدارنګه د کليدي سياسي او امنيتي تحولاتو او د افغانستان په تړاو د سيمه ييزو او نړيوالو پېښو په اړه يو لنډيز برابروي.

## دويم. اړوند پرمختګونه

### الف. سياسي تحولات

۳. د راپور ورکولو په موده کې، زياتره پاملرنه د جولای پر ۸ نېټه د افغانستان په اړه د توکيو د ترسره شوی کنفرانس پرمهال د دوه اړخيزه ژمنو د تطبيق او څارنې لپاره د سيستمونو او جوړښتونو په اړه پر توافق متمرکزه وه. افغان او نړيوالو شريکانو د ارادې جديت په ډاګه کړه څو د ليږد په موده کې خوځښت او د ۲۰۲۴-۲۰۱۵ د ليږد لسيزې لپاره يو پياوړی بنسټ ډاډمن کړي .

۴. د هيواد د سياسي ليږد لپاره د يوه بنسټ په څېر ټاکنو د افغان شريکانو ترمنځ په زياته کچه د سختې ليوالتيا راجذبول جاري ساتلي. د توکيو د دوه اړخيزې حساب ورکونې په کاري چوکاټ کې، دولت له اساسي قانون سره سم د افغانانو په مشرۍ او د افغانانو له خوا د اداره کيدونکو باوري او ټول شموله ټاکنو لپاره يو ځل بيا خپله ژمنه په ډاګه کړه. دا چې څرنګه دغه موخه په غوره ډول ترلاسه شي، په پراخه کچه د بحث موضوع وه. د سپتمبر پر ۱۷، د وزيرانو شورا د ټاکنو د خپلواک کميسيون د رايه اچوونکو د ثبت لپاره د نوی تمرين هغه وړانديز رد کړ چې په مشخصو انتخاباتي مرکزونو پورې اړوند د رايه اچوونکو ليستونه جوړ کړي. د کورنيو چارو له وزارت سره يو ځای د مخابراتو او تکنالوجۍ

وزارت د برېښنايي ملي پېژند پاڼو پر بنسټ یوه تګلار د نوموړي ورانديز پر ځای غوره وګڼل شوه. د دغه اوږد مهالي ماهيت ته په کتو سره، کميسيون ته لاربښوونه وشوه چې د راتلونکو دور ټاکنو لپاره د رايه اچونکو د لیست د یوه بنسټ په څېر، هم مهاله د رايه اچوونکو پخواني ويشل شوي کارتونه، د درغليو د راکمونې تدابير او د دوه ګونو په ميليونو کارتونو د لرې کولو شونتيا وګوري. د پروژې مختلفو پراخو لګښتونو او زماني مودو د اټکلونو ترمنځ د انتخاباتي پلان جوړونې او نړيوال ملاتړ د بيا اړين تطابق د غوره پوهاوي په پار د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي پلاوي (يوناما) د معلوماتو د شريکولو ناستې تسهيل کړې .

۵. د ټاکنو د خپلواک کميسيون د دندو او جوړښت په اړه يو قانون د سپتمبر پر ۲۴ نېټه د ولسي جرګې له خوا تصويب شو. دغه قانون د کميسيون د ګمارنو لپاره د اوسني وضعيت پر ځای چېرې چې ولسمشر ټول واک لري، يوه ټول اړخيزه مشورتي پروسه مشخصه کوي. د مباحثو په وروستيو شيبو کې، ولسي جرګې د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون د شخړو د حل د نهايي ارګان په څېر شامل کړ، چې د ملګرو ملتونو له خوا د ټاکل شويو دوو نړيوالو غړو په درلودو سره د يوې دايمي ادارې په څېر بيا تاسيس شو. د نومبر پر ۲۰ نېټه، د مشرانو جرګې، نوموړی قانون تصويب کړ خو د ګمارنو وړانديز شوی ميکانيزم يې ور څخه حذف کړ چې په دې ډول يې د انتخاباتي چارو د مديريت د ادارو د غړو ټاکل د ولسمشر لپاره امتياز پرېښود، دغه راز يې د شکايتونو په کميسيون کې د نړيوالو غړيتوب رد کړ. د دواړو خونو يو ګډ کميسيون اوس بايد د دغې موضوع په اړه يوه جوړ جاړي ته ورسيږي. د اکتوبر پر ۲۰ نېټه، انتخاباتي قانون د وزيرانو شورا ته وړاندې شو. په دې اړه کار روان دی، په داسې حال کې چې عامه بحثونه د سياسي ګوندونو پر نقش، د هغو چوکيو پر تخصيصونه چې د اساسي قانون له مخې د ښځو لپاره ساتل شوي، د نوماندانو پر مستحق کيدو، پر رايې پاڼو د تسلسل پر شميرې، د امنيتي ادارو او د شخړو د حل ميکانيزمونو پر نقش متمرکز و .

۶. د اکتوبر پر ۳۱ نېټه، د ټاکنو خپلوا کميسيون د ولسمشريزو او ولايتي شوراګانو د هم مهالو ټاکنو لپاره مهالويش اعلان کړ. د رايې اچونې ورځ د ۲۰۱۴ کال د اپريل پر ۵ نېټه ټاکل شوې. د آپوزيسيون او ملي شورا ځينو غړو پر لوژيستکي تياريو او په ټاکنو کې د خلکو د ګډون په اړه د ژمنۍ هوا د بالقوه اغيز په اړه اندېښنې څرګندې کړې، په تېره بيا د هيواد په شمالي او مرکزي سيمو کې. د دغه مهالويش پر بنسټ، کميسيون د عملياتو يوه طرحه چمتو کړې چې اوس مهال د ولسمشر له دفتر سره ده، کومه چې مشخصه بودجه او وړانديز شوې ستراتيژي ګانې او فعاليتونه رانغاړي څو د ټاکنو ترسره کول ښه کړي. د اکتوبر پر ۳۱ نېټه، کميسيون دغه راز د ۲۰۱۵-۲۰۱۴ د ټاکنو لپاره په رسمي ډول د ملګرو ملتونو د ملاتړ غوښتنه وکړه. غوښتنه له مرکزي دفتر څخه د دوه پړاونو د اړتياوو د ارزونې د هيئتونو د راتګ لامل شوه، چې لومړۍ ليدنه د نومبر له ۲۷ د ډسمبر تر ۵ پورې ترسره شوه. اوس مهال د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام د ټاکنو د ملاتړ پروژه، د سبا لپاره د قانوني او انتخاباتي ظرفيت غښتلي کول، دويم پړاو پروګرام د کميسيون لپاره انتخاباتي تخنيکي مرسته برابروي. په دغې موده کې ملاتړ همدارنګه خپلواکو کارپوهانو ته غځېدلی څو د عدليې وزارت لپاره د انتخاباتي قانون پر طرحې په کار کولو کې تخنيکي سلا مشورې وړاندې کړي .

۷. سياسي ګوندونو په چټک ډول په يوه بدليدونکي چاپيريال کې په ګروپونو کې او د هغوي ترمنځ له تطابق او يو ځای کيدو سره خپل فعاليتونه ګړندي کړي. د اکتوبر پر ۴ نېټه، افغان ملت چې په تاريخي ډول د پښتنو له خوا يو واکمن ګوند دی، د دغه ګوند د ګانګريس شپږمه غونډه په کابل کې ترسره کړه، چې د دغه ګوند اوږد مهالی مشر او د سوداګرۍ وزير انور الحق احدي ځای ناستی د ګوندي د عمومي منشي ستانا ګل شيرزاد وټاکل شو. د مجاهدينو د وخت له حزب اسلامي (افغانستان) څخه را جلا او ثبت شوې سياسي برخې خپل د کانګرس ناسته د اکتوبر پر ۳ او ۴ نېټه په پلازمينه کې ترسره کړه، چې د اقتصاد وزير عبد الهادي ارغنديوال يې رهبري تر لاسه کړه. دواړه ډلې د آپوزيسيون له دوو سترو بلاکونو د افغانستان ملي جبه او د افغانستان ملي ايتلاف د سياسي قشر د هغو ۲۰ ګوندونو ترمنځ وې چې د سپتمبر پر ۲۳ نېټه يې د "ولسواکۍ منشور" خپور کړ. دغه منشور د نورو شيانو ترمنځ د دې غوښتنه کوله چې حکومت بايد په انتخاباتي او سياسي پروسو کې د سياسي ګوندونو لپاره يو ستر رول ډاډمن کړي. د انتخاباتي اصلاحاتو لپاره لا زياتې مفصلې غوښتې له ۵۰ څخه زياتو سياسي ګوندونو او د مدني ټولنې د سازمانونو له خوا د يوې غونډې پرمهال تصويب شوې کومه چې د اکتوبر پر ۱۷ نېټه د داخلي څار د سترې ادارې، د افغانستان د ازادو او عادلانه

ټاکنو د بنسټ له خوا په کابل کې ترسره شوې. د نومبر پر ۳ نېټه، ولسمشر حامد کرزي شا و خوا ۱۰۰ د رسنیو مدیران او ژورنالستان له ټاکنو څخه په مخکې موده کې د راپورو ورکولو په اړه د سلا مشورو لپاره راغوښتي وو. ګډونوالو د بیان د آزادۍ پر سر د وروستیو مباحثو پرمهال د دغه نوښت هرکلی وکړ. د رسنیو د موضوعاتو په اړه په قانوني چوکاټ کې د کمزوریو، له چارواکونو څخه د معلوماتو په ترلاسه کولو کې د ستونزو، او د ژورنالستانو په وړاندې د ګواښونو په اړه اندېښنې په ډاګه شوې .

۸. ولسي جرګې د سپتمبر پر ۱۵ نېټه د دولت له څلورو څخه د دریو لوړ پوړو امنیتي منصبونو ته د تایید رایه ورکړه. د کورنیو چارو پخواني وزیر بسم الله خان محمدي، د دفاع وزیر په څیر تایید شوی؛ د کورنیو چارو یو لوړ پوړی چارواکي جنرال مجتبی پتنګ، د وزیر رتبې ته ترفیع شوی؛ او د قبایلو د چارو پخواني وزیر اسد الله خالد، د ملي امنیت د ریاست د عمومي رئیس په څیر تایید شوی. د کابل پخواني والي حاجي دین محمد د قبایلو چارو د وزیر په څیر د تایید لپاره اړینې رایې ترلاسه نه کړای شوې. د نومبر پر ۶ نېټه، ملي بودجه – د مالي کال لپاره په مهالویش کې له بدلون سره، چې اوس د ډسمبر پر ۲۱ نېټه پیلیږي – د مشرانو جرګې ته وړاندې شوه. د مالیې وزیر عمر زاخیلوال په خپله وینا کې په ډاګه کړه چې افغانستان نه باید تر ۲۰۱۴ کال وروسته له اقتصادي ناورین سره مخ شي، خو د د اخلي عوایدو د زیاتولو په ګډون د سترې ځان بساینې د ډاډمنولو پر اړتیا یې ټینګار وکړ. دنومبر پر ۲۷ نېټه، بودجه د سناتورانو له مشورتي تبصرو سره ولسي جرګې ته وړاندې شوه. ټولټال وړاندیز شوې بوجه ۷ بیلیونه امریکایي ډالر (۳.۸ بیلیونه امریکایي ډالر عادي بودجه او ۳.۳ بیلیونه امریکایي ډالر پراختیایي بودجه) ده. د نومبر پر ۷ نېټې ولسي جرګې د ولسمشر له خوا وړاندیز شوې د دولت بنسټیزه پالیسي لکه څرنګه چې یې د اساسي قانون د ۶۴ مادې له مخې غوښتنه کیږي، د وضاحت د نشتون له امله مسترد کړه او د تخنیکي کمیسیونونو له لوري یې له تبصرو سره یو ځای بیرته واستوله .

۹ . د سپتمبر له ۱۹ نېټې په پیل سره، په کابل کې د سپتمبر پر ۲۲ نېټه له مختلفو افغان سیاسي، دیني او د مدني ټولنې د اشخاصو سره یو ځای د ۱۵ هیوادونو استازو په درلودو سره چې د پخلاینې د پروسې په اړه یې خپل نظرونه شریکول، په کابل کې د سولې د نړیوال کنفرانس په ګډون، په ټول هیواد کې له ۱۹۵ اړوندو مراسمو سره د سولې او ملي یووالي اونۍ د سولې د عالي شورا له خوا ولمانځل شوه. د نومبر له ۱۲ تر ۱۴ نېټې پورې، د شورا رئیس صلاح الدین رباني د پاکستان د بهرنیو چارو د وزیرې حنا رباني کهر په بلنې سره له اسلام اباد څخه د لیدنې د یوه پلاوي مشري وکړه. د شورا استازو د پاکستان له ولسمشر اصف علي زرداري، صدر اعظم راجه پروزیز اشرف، او د پوځ له مشر جنرال اشفاق کیاني سره ولیدل او د اوږد مهاله او با ثابته همکارۍ د اړتیا په اړه یې خپل مثبت نظرونه سره تبادله کړل. د پاکستان په زندانونو کې یو شمیر طالبان خوشې شول د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت او د سولې عالي شورا په یوه ګډه اعلامیه کې په دې هوکړه وکړه چې د احتمالي مذاکره کونکو له خوا به د خوندي تیریدو غوښتنې په مثبت ډول په پام کې ونیول شي، له طالبانو او وسله والو مخالفینو یې وغوښتل چې له القاعدې سره اړیکې پرې کړي او اعلان یې وکړ چې په سیمه کې د مخ په زیاتیدونکي سخت دریځۍ د حل لپاره به د دیني مشرانو کنفرانس جوړ شي. د نومبر له ۲۴ تر ۳۰ نېټې پورې، ښاغلي رباني له واشنګټن ډي سي، او نیویارک څخه لیدنه وکړه چیرې چې هغه د امنیت شورا په ګډون له اړوند غړو هیوادونو له غړو سره ناستې ترسره کړې څو د سولې پروسې په اړه د لید لورو او په دې اړه خبرې اترې ترسره کړي چې د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) شمیره پریکړه لیک په تعقیب د امنیت شورا تاسیس شوې کمېټه د دغې موخې په ترلاسه کولو کې څرنګه مرسته کولی شي .

۱۰. یوناما اسلام اباد ته د هوایي ترانسپور د تسهیلونې په ګډون، د سولې عالي شورا ته د تحلیلي، مشورتي او تخنیکي ملاتړ برابرول جاري ساتلي. ماموریت دغه راز د دوه ډیالوګونو ترسره کول په پلان کې لري چې د راتلونکي لپاره پر لید لورو تمرکز کوي، څو افغان شریکباني په خپل شخصي ظرفیت ګډون ته وهڅوي. د ملګرو ملتونو له پرمختیایي پروګرام سره یو ځای یوناما همدارنګه د افغانستان د سولې او ادغام له پروګرام سره مرسته کوي، کوم چې د ټیټې کچې پر جنګیالیو متمرکز دی. د هغه د ګډ دار الانشاء له معلوماتو سره سم، د نومبر تر ۱۴ پورې ټولټال ۵۸۱۴ جنګیالي له دغه پروګرام سره یو ځای شوی، چې ۳۰۱ هغه یې د سپتمبر راهیسې دغه کار ترسره کړی .

۱۱. د نومبر پر ۵ نېټه، د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) پرېکړه لیک په تعقیب د امنیت شورا تاسیس شوې کمېټې، له طالبانو سره د افغانستان سولې، ټيکاو او امنیت ته په ګواښ رامنځ ته کولو کې د یوې ترلې اداري په څير د حقاني شبکې لیست کول تایید کړل. دغه کار د ۲۰۰۷ کال راهیسې د نوموړې ډلې د یو شمېر لوړ پوړو قوماندانانو او مالي تسهیلوونکو په لیست کې د دوامداري شاملونې په تعقیب رامنځ ته کیږي. کمېټې د لوړې کچې پر اهدافو په یو لړ بریدونو کې د نوموړې شبکې ښکیلتیا په ډاګه کړې لکه: په ۲۰۰۸ کال کې د سرینا هوټل، د ۲۰۱۱ کال په جون کې د انټرکانټیننټل هوټل، د ۲۰۱۱ کال په سپټمبر کې د امریکا د متحده ایالاتو سفارت او د نړیوالو نظامي مرستندویه ځواکونو مرکز او د ۲۰۱۲ کال په اپریل کې د افغانستان په مختلفو ځایونو کې. د نومبر پر ۲۱ نېټه، د راحت لمټيد حواله، له عنعنوي بانکي سیستم څخه بهر د پیسو د لیږد غیر رسمي میکانیزم چې لیکلي ثبت تر شا نه پریږدي، دغه راز د هغه د څښتن سره یو په لیست کې شامل شو. د امنیت شورا په زیاتیدونکي ډول پر هغو لوژيستکي جوړښتونو تمرکز کوي کوم چې د بلواګرۍ له فعالیتونو سره ملاتړ کوي، او د بلواګرۍ په تمویل او تسهیلونه کې د راحت لمیټډ ګډون په ډاګه کړ .

۱۲. له نړیوالو نظامي ځواکونو څخه افغان چارواکو ته د امنیتي مسوولیت مرحله ییز لیږد دوام درلود، چې هغه سیمې تر پوښښ لاندې نیسي په کومو کې چې ۷۵ سلنه وګړي ژوند کوي. تمه کیږي چې د امنیتي لیږد په وروستیو دوه مرحلو کې د ناحیو/ولسوالیو ویش به د ۲۰۱۳ کال په لومړیو کې اعلان شي. ولسمشر د سیمه ییزو ارګانو د خپلواکې ادارې په مشرۍ یوه کاري ګروپ ته دنده سپارلې چې د ولایتي بیا رغونې له ټیمونو (پي آر ټي) څخه د واک د لیږد لپاره یو میکانیزم طرح کړي. نوموړې اداري له اړوند غړو دولتونو څخه د خپلو فعالیتونو په اړه د معلوماتو/ډیټا غوښتنه کړې څو د ۲۰۱۳ کال په جنوري کې یې د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي. د اکتوبر پر ۹ او ۱۰ نېټه په بروکسل کې د ناټو سازمان د دفاع وزیرانو په یوه غونډه کې، ایساف ته لارښوونه وشوه چې تر ۲۰۱۴ کال وروسته د روزنېزو فعالیتونو لپاره پلان جوړونه پیل کړي. د اکتوبر له ۱۷ تر ۱۹ نېټې پورې له کابل څخه د شمالي اتلانتیک د شورا لیدنې هغه ژمنې تایید او تقویې کړې چې په مۍ میاشت کې د متحده ایالاتو په شیکاګو کې په یوه سرمشریزه کې ترسره شوې وې، چې د ناټو ځواکونه که څه هم په ډیر کم شمیر کې وي به د ملاتړ برابرولو په موخه پاتې کیږي، په دې شرط چې قانوني وضعیت باندې به یې له افغان حکومت سره توافق کیږي. د نومبر پر ۱۵ نېټه، د افغانستان او متحده ایالاتو حکومتونو د هغوي د ستراتیژیک مشارکت له تړون سره سم په رسمي ډول د دوه اړخیز امنیتي تړون په اړه مذاکرات پیل کړل.

## ب: امنیتي تحولات

۱۳. ملګرو ملتونو د ملکي فعالینو د کار، خوځښت او خوندیتوب په اړه د امنیتي پېښو ځارل جاري ساتلي. د راپور ورکولو په موده کې امنیتي پېښې له ۲۰۱۱ څخه د پام وړ کمې او په ۲۰۱۰ کال له هغو سره د پرتلې وړ وې. په غیر معمول توګه، د روژې په پای کې د بلواګرۍ په فعالیتونو کې د پام وړ زیاتوالی لیدل شوی، چې له موسمي رجحاناتو سره سم تر دغې مودې وروسته راکم شوي. د اګست له ۱ د اکتوبر تر ۳۱ پورې، ۴۸۰۱ امنیتي پېښې ثبتې شوې چې په ۲۰۱۱ کې د ورته مودې په پرتله (۵۵۸۲) ۱۴ سلنه کموالي په ډاګه کوي. دغه کمښت په جزئي ډول د افغان او نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د بلواګرو پرسونلو، وسلو او تمویل د لیږد د بریالي مخنیوي له امله رامنځ ته شوی. خو له دې سره سره، هغه د ښه شوي امنیت د عامه انګیرنو لامل نه شو. خلک دغه راز د نا قانونه وسله والو ډلو، قومي نښتو او د سرچینو پر سر د شخړو له کړنو کړیږي، په داسې حال کې چې د بلواګرو له خوا د نفوذي سیاسي، مذهبي یا قومي مشرانو، د ټولنې او ښځینه فعالینو د تهدید او هدفي وژنو کمپاین په ثابت ډول دوام لري.

۱۴. د اګست له ۱ د اکتوبر تر ۳۱ پورې، د هیواد جنوبي او ختیځې سیمې د امنیتي پېښو د ستر اکثریت شاهدې وې – د بلواګرو له خوا د کابل په لور پر غځیدلو لویو لارو له مخ په زیاتیدونکي تمرکز سره. د عمومي کمښت په مقابل کې، کندهار، کونړ، ننګرهار، لوګر او وردګو ولایتونو کې د ۲۰۱۱ په پرتله لوړ شمیر امنیتي پېښې ثبتې شوې. په غیر معمول ډول، د فارياب شمالي ولايت په دغه موده کې د شپږم لوړ شمیر امنیتي پېښو په درلودو سره، د امنیتي پېښو د شمیر د لوړوالی شاهد و. وسله والې نښتې او د لاس جوړ چاودیدونکي وسیلې د دغو پېښو اکثریت جوړوي. د بلواګرو له

خوا د سترو غونډو پر ضد د فعالیتونو سره سره، ځانمرګي بریدونه د شمیر له پلوه د ۲۰۱۱ په پرتله کم وو، چې د ۲۰۱۱ کال په ورته ربع کې د ۳۹ په پرتله، د روان کال د اګست له ۱ د اکتوبر تر ۳۱ پورې ۲۲ دغه ډول بریدونه ثبت شوي. افغان امنیتي ځواکونو په کابل، کندهار، کندز، پروان او بغلان ولایتونو کې د بریدونو مخه نیولې، چې لږ تر لږه ۱۷ بالقوه ځانمرګي بریدګر یې نیولي او په لوړه کچه چاودیدونکي توکي یې ضبط کړي. په ډله ییزه نښته کې، په غزني او وردګو ولایتونو کې د بلواګرو ترمنځ د دغه ډول پېښو راپورونو دوام درلود، په دې سربېره په نورستان او لغمان ولایتونو کې د طالبانو د تهدیدونو په خلاف د ځایي پاڅونونو ادعاوې شوي.

۱۵. په سپتمبر میاشت کې اسلام ته د سپکاوي د فرانسوي کارتونونو او امریکایي فلم له امله په بامیانو کې د یوناما دفتر مخې د یوه لاریون په ګډون د کوم پر مهال چې د ډېرو د ګذارولو له مله یو ساتونکی ټپي او د پولیسو یو موټر زیانمن شو له دریو استثناوو سره، د خلکو زیاتره لاریونونه سوله ییز وو او افغان امنیتي ادارو له خوا اداره شول. ملګري ملتونه او همکارې ادارې په فاریاب، بلخ، هرات، غور، نیمروز او پروان ولایتونو کې پر کاروانونو د بریدونو له امله د مستقیم او څو اړخیز تهدید لاندې راغلي، په دې سربېره په بلخ، فاریاب، هرات، فراه، بادغیس، کندهار، ننګرهار، کابل او بامیانو ولایتونو کې داخلي کارمندان له تښتونو او ګواښونو سره مخ شوي. د اکتوبر پر ۱۸ نېټه، یوه چورلکه د جلال اباد او ګردیز ترمنځ د پرواز پر مهال د سپکو وسلو د ډزو له امله زیانمنه شوه. د افغان عامه ساتنې د ځواک له خوا د شخصي امنیتي کمپنیو بدلون د سوکه پرمختګ شاهد و. د اکتوبر پر ۳۱ نېټه، د بهرنیو چارو وزارت تایید کړه، چې ملګري ملتونه، بهرني ماموریتونه او نورې نړیوالې ادارې د دې صلاحیت په درلودو له ډیپلوماتیک معافیت څخه برخمنې دي څو د خپلو ودانیو/جوړښتونو لپاره داخلي امنیت وساتي.

۱۶. د اکتوبر تر ۳۱ نېټې پورې، د افغان ملي پولیسو د پرسونلو شمیر ۱۴۷۰۰۰ او د افغان ملي اردو د سرتېرو شمیر ۱۸۸۰۰۰ و. په داسې حال کې د ۲۰۱۲ کال د پای اهداف (په ترتیب سره ۱۵۷۰۰۰ او ۱۹۵۰۰۰) تر ډېره پوره شوي، د خدمت پرېښودو (تېښتې) کچه لوړه پاتې شوې. داخلي بریدونه چې نړیوالو او داخلي پرسونل په نښه کوي هغې ستراتیژۍ ته زیان اړولی کومه چې د ټیکو او لوړو کچو ګمارنو پر بنسټ ولاړه ده او پر دوه اړخیز باور متکي پاتې دي. د چاڼ تمرین په پایله په سلګونو پرسونل له ټولو خدمتونو څخه لیرې کړای شوي. د یوه با ثباته پوځي ځواک په ډاډمنولو کې، د افغان او نړیوالو شریکانو له خوا د عملیاتو او ساتنې لپاره د چمتوالی د اړینو توانمندیو لکه هوایي شتمنۍ، انجنیران، له چاودیدونکو توکو سره د مبارزې مهارتونه او د تلفاتو اخراجونه، په اړه اندېښنې شریکې شوې. د مدني ټولنې غړو د احتساب د شفافو میکانیزمونو لپاره پر اړتیا خپل ټینګار جاري ساتلی.

۱۷. د اکتوبر پر ۱۶ او ۱۷ نېټه، د کورنیو چارو وزارت د لوړ پوړو پولیس پرسونلو په یوه غونډه کې خپل ۱۰ لومړیتوبونه په ډاګه کړل. په دغو لومړیتوبونو کې راتلونکي هغه شامل دي: د ټولنې پر بنسټ پولیس، په هغو سیمو کې د ځواکونو لپاره ملاتړ چیرې چې امنیتي لیرد ترسره شوی، د تلفاتو او تېښتې د کچو راکمول، له اداري فساد سره د مبارزې هڅې او د یوه سالم اداري جوړښت ډاډمنول. د نومبر پر ۱۰ نېټه، د پولیسو د ۳۲ لوړ پوړو چارواکو بیا ځای پر ځای کول اعلان شول. د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام له خوا اداره کیدونکی د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندوق، کوم چې د پولیسو لپاره معاشات برابروي، په اړه د ناسمو کړنو په اړه اندېښنو ته د نوموړي پروګرام او ډونرانو ترمنځ د فعال ډیالوګ له لارې رسیدګي وشوه. د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام د تفتیش او څېړنو دفتر دخیل شوی او د خپلواکو مشاورینو له خوا د مدیریت بیا کتنې روانه ده، چې د ډسمبر په نیمه یې کې به نهایي شي. د څار او رعایت کولو د میکانیزمونو او نویو معیاري عملیاتي طرز العملونو په ګډون، د خسارې د جبران تدابیر لا وار د مخه وضع شوي. یوناما د نړیوالو سرچینو د همغږۍ تسهیلول جاری ساتلي چې له افغان چارواکو سره د ښځینه پولیس افسران د ګمارنې او ظرفیت جوړونې په غښتلي کولو کې مرسته وکړي او د نارینه افسرانو ترمنځ د پولیسو په ځواک کې د مساوي غړو په څېر د ښځو د ګډون د اهمیت په اړه پوهاوی لوړ کړي. د اکتوبر پر ۱۵ نېټه، د کورنیو چارو وزارت له وجهي صندوق، یوناما او د ښځو د نا دولتي ادارو له کنسرتیوم سره یو ځای، د ښځینه پولیسو د څار پروګرام پیل کړ، چې موخه یې د ښځینه پولیس افسرانو د ظرفیت لوړلول، د ښځو په وړاندې تاوتریخوالي ته رسیدګي

او د نارينه افسرانو ترمنځ د پوليسو په ځواک کې د مساوي غړو په څير د ښځو د ګډون د اهميت په اړه د پوهاوی لوړول وو.

۱۸. د نومبر تر ۱۴ نېټې پورې، د ۱۷۸۵۰ پرسونلو په درلودو سره چې په ۸۶ تاييد شويو موقعيتونو کې خدمت ترسره کوي، د چاڼ له پروسې سره يو ځای د افغان سيمه ييزو پوليسو پراخوال جاري وو. افغان امنيتي ادارې د روزنې او څار په هغو چارو کې مخ پر زياتيدونکې نقش ترلاسه کوي چې پخوا د نړيوالو ځواکونو له خوا ترسره کيدې. په داسې حال کې چې افغان سيمه ييزو پوليسو په ځينو سيمو کې له امنيت سره مرسته کړې، د چاڼ، د قوماندې د کنټرول، معافيت او د بالقوه قومي يا سياسي انګيزو لرونکو مليشو د بيا راڅرګندېدو په اړه سترې اندېښنې موجودې دي. د اکتوبر پر ۳۱ نېټه، په هرات ولايت کې د پخوانيو سلګونو مجاهدينو په يوه غونډه کې، د اوبو او انرژۍ وزير محمد اسماعيل خان د پخوانيو جنګياليو د واحدونو په درلودو سره د مجاهدينو د ملي شورا له تاسيسولو سره مرسته وکړه، څو تر ۲۰۱۴ کال وروسته د هيواد له امنيتي ځواکونو سره مرسته وکړي. د والي وياند بيا وروسته په دې اړه اندېښنه څرګنده کړه او پر دې يې ټينګار کاوه چې امنيت د دولت دنده ده. همدارنګه د قانون جوړونې په دوارو خونو کې په دې اړه سختې نيوکې وې کوم څه چې د بالقوه بې ثباته کولو هڅه انګيرل کيده څو موازي جوړښتونه رامنځ ته کړي.

## ج: سيمه ييزه همکاري

۱۹. د يوه خوندي او با ثباته افغانستان لپاره د امنيتي او سيمه ييزې همکارۍ په اړه په استانبول پروسه کې د باور جوړونې د طرح شويو تدابيرو تطبيق دوام درلود. د سپټمبر پر ۲۴ نېټه، د افغانستان او قزاقستان د بهرنيو چارو مرستيال وزيرانو په نيويارک کې د لوړ پوړو چارواکو ناسته په ګډه رهبري کړه، په کومه کې چې ګډونوالو د اوو پر موافقه شويو تدابيرو له جملې د دريو هغو په وړاندې د ترسره شوي پرمختګ کتنه ترسره کړه: له تروريزم سره مبارزه، د ناورين مديريت او د سوداګريزو خونو ترمنځ همغږي. د لوړ پوړو چارواکو په دويمه ناسته کې چې د اکتوبر پر ۱۸ نېټه په انقره کې ترسره شوې، ګډونوالو پر دې توافق وکړ چې د باور جوړونې ټول تدابير به د تطبيق پلانونه ولري چې د راتلونکې ناستې تر وخته به چمتو وي کومه چې د ۲۰۱۳ کال په جنوري کې په باکو کې پلان شوې، او هغه اشخاص چې په ناسته کې ګډون کوي بايد د تصويب صلاحيت ولري.

۲۰. د سپټمبر پر ۲۵ نېټه، د افغانستان او پاکستان د بهرنيو چارو وزيرانو په نيويارک کې ليدنه ترسره کړه څو د افغانستان-پاکستان د ترانزيت سوداګرۍ د تړون د پرمختګ او د پولې په اوږدو کې د تيريو او د توپونو ګذارولو د موضوعاتو په اړه خبرې اترې ترسره کړي. يوه ورځ وروسته په يوه درې اړخيز ناسته کې، د افغانستان او پاکستان ولسمشرانو او د برېتانيې صدر اعظم ډيويډ کامرون په دې موافقه وکړه چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ۲۰۱۳ کال تر پايه د ستراتيژيکې همکارۍ تړون نهايي کړي. د نومبر پر ۲۰ نېټه د پاکستان د پوځ مشر جنرال کياني له کابل څخه يوه ورځنۍ کتنه ترسره کړه چې له ولسمشر او له ملي او نړيوالو نظامي همغاړو سره يې وليدل.

۲۱. د سپټمبر پر ۲۲ نېټه، ولسمشر د چين له لوړ پوړي امنيتي چارواکي، ژو يونګکنګ سره وليدل، کوم چې له ۱۹۶۶ راهيسې تر ټولو د لوړې کچې استازی ګڼل کيږي چې افغانستان څخه ليدنه کوي. په سيمه کې د افغانستان تعامل په لا زيات پراخيدو سره، د اکتوبر پر ۱۶ نېټه ولسمشر د اقتصادي همکارۍ د سازمان د هيوادونو مشرانو او/يا د غړو هيوادونو د حکومتونو په سرمشريزې کې ګډون وکړ چې په باکو کې ترسره شوه، او پر بل ورځ يې د اسيا د همکارۍ په ډيالوګ کې ګډون وکړ کوم چې په ۲۰۰۲ کال کې پرانستل شو څو د سيمه ييزې همکارۍ سازمانونه سره توحيد کړي. د نومبر پر ۸ نېټه، هغه د بالي د ولسواکۍ پنځمې ناستې ته وينا وکړه. د نومبر پر ۹ نېټه، هغه او د اندونيزيا ولسمشر سوسيلو بامبانګ يودويونو د ملګرتيا يو شمير سندونه لاسليک کړل څو سوداګريزه او کلتوري همکاري غښتلې کړي. د نومبر له ۹ تر ۱۳ نېټې پورې، هغه له هندوستان څخه رسمي ليدنه ترسره کړه، چې ولسمشر پرناب مکرجي او له صدر اعظم منموهن سنګ سره يې کتنې ترسره کړې. د دغو ليدنې پر مهال څلور تړونونه لاسليک شول څو د ځايي

حکومتولۍ او د ټولنې د سازمانونو، کرنې، ځوانانو د چارو او د ډېرو د زغالو معدني سرچینو د پراختیا په اړه همکاري زیاته کړي.

۲۲. د سپتمبر پر ۱۹ نېټه، لتوانیا د "افغانستان او سیمه: د پایښت لرونکې پراختیا لپاره عملي کړنلار" تر عنون لاندې د یوه نړیوال کنفرانس کوربه وه. په دغه کنفرانس کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر او د هغه لتوانیایي همغاړي أودرونیوس أووبالیس ګډون کړی و. د اکتوبر پر ۱۸ نېټه، د مرکزي اسیا د بهرنیو چارو د مرستیال وزیرانو څلورمه کلنۍ ناسته د مرکزي اسیا لپاره د پیشګرانه ډیپلوماسۍ لپاره د ملګرو ملتونو د سیمه مرکز په ملاتړ په تاشکند کې ترسره شوه. د اکتوبر پر ۱۹ نېټه، د افغانستان په اړه د تماس ګروپ سره په انقره کې ولیدل. مباحثې د توکیو د دوه اړخیزې حساب ورکونې د کاري چوکاټ پر تطبیق، د استانبول پروسې، له نشه يي توکو سره پر مبارزې او انتخاباتي او د پخلاینې پر پروسو متمرکزې وې. د افغانستان د بهرنیو چارو مرستیال وزیر په خپله وینا کې په کلکه له نشه يي توکو سره مبارزه او د انتخاباتي او پخلاینې له پروسو سره ملاتړ یو له بل سره وتاړه. د نومبر پر ۱۴ او ۱۵ نېټه، د اسیا او ارام سمندر لپاره د ملګرو ملتونو اقتصادي او ټولنیز کمیسیون د افغانستان او مرکزي اسیا ترمنځ د اقتصادي اړیکو د غښتلي کولو په اړه په مزار شریف کې یو کنفرانس دایر کړ. په دغه کنفرانس کې د بلخ والي، ځايي چارواکو، د سوداګریو استازو، د پارلمان غړو، د تاجکستان لپاره د ملګرو ملتونو مقیم همغږي کوونکي، د افغانستان لپاره د تاجکستان سفیر او له ازبکستان، قزاقستان او یوناما څخه ګډونوالو ګډون کړی و. د دغه کنفرانس په تعقیب د نومبر پر ۲۷ او ۲۸ د ملګرو ملتونو د مرکزي اسیا د اقتصادونو لپاره د ۲۰۱۲ کال ځانګړی پروګرام په باکو کې ترسره شو، په کوم کې چې د څنډو غونډې هم شاملې څو د افغانستان په اړه د کار کتنه وکړي.

۲۳. زما ځانګړي استازي یان کوبیش د روسیې فدراتیف، ترکیې، ترکمنستان او متحده عرب اماراتو څخه له رسمي سفرونو سره پر سیمه ییز تعامل او ګډون تمرکز جاري ساتلی و. د نومبر پر ۱۴ نېټه په مسکو کې، هغه د سیمه ییز امنیت په اړه د شانګهاي د همکارۍ سازمان له غړو دولتونو او ناظرینو سره سلا مشورې ترسره کړې. پر دې هوکړه وشوه چې د شانګهاي د همکارۍ سازمان او یوناما به خپلې اړیکې او مرسته پراخوي څو د افغانستان سوله ییزه او با ثباته پراختیا ډاډمنه کړي. د اکتوبر پر ۹ او ۱۰، د یوناما لپاره زما د ځانګړي استازي مرستیال نیکولاس هیسم له تهران څخه لیدنه وکړه، چیرې چې هغه له لوړ پوړو ایراني چارواکو سره وکتل او د ملي امنیت، کډوالۍ، کډوالو او نشه يي توکو د کنترول په ګډون يي د پیاوړي سیمه ییز تعامل په اړه مباحثې ترسره کړې.

## دریېم: بشري حقونه

۲۴. د اګست له ۱ د اکتوبر تر ۳۱ پورې، د ۲۰۱۲ کال د لومړیو شپږو میاشتو د مخ په ځوړ تمایل په خلاف، په ۲۰۱۱ کال د ورته ربع په پرتله ملکي تلفات ۲۸ سلنه لوړ شوي. په عمومي ډول د ۲۰۱۲ کال په لومړیو ۱۰ میاشتو کې، په ۲۰۱۱ کال د ورته مودې په پرتله په ولسي مرګ ژوبله کې څلور سلنه کموالي رامنځ ته شوی. یوناما د اګست له ۱ د اکتوبر تر ۳۱ پورې ۲۵۵۷ ملکي تلفات (۹۶۷ مړه او ۱۵۹۰ ټپي) مستند کړي. د دغو تلفاتو ستر اکثریت (په ۲۰۱۱ کال د ورته مودې د ۷۰ سلنې په پرتله، ۸۴ سلنه) دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي. دولت پلوه ځواکونه په تیر کال کې له ۱۰ سلنې څخه، د ملکي تلفاتو د ۶ سلنه مسوول دي. پاتې ۱۰ سلنه تلفات هیڅ کوم لوري ته نه شي منسوب کیدای.

۲۵. د لاس جوړ چاودیدونکي وسیلې لا اوس هم د ملکي تلفاتو مخکښ لامل ګڼل کیږي، کومې چې د اګست له ۱ د اکتوبر تر ۳۱ پورې له ځانمرګو بریدونو سره یو ځای، د ولسي مرګ ژوبلې ۵۶ سلنه جوړوي. د اکتوبر پر ۱۹ نېټه د ملکي تلفاتو په یوه ستره پېښه کې، په بلخ ولایت کې د ملکي وګړو پر یوه بس د لاس جوړ چاودیدونکو توکو فشاري ماین وچاودید چې ۱۱ ښځې يي ووژلې. د لوي اختر په مناسبت په یوه اعلامیه کې چې د ادعاوو له مخې د طالبانو د مشر ملا عمر له خوا خپره شوې وه، د غیر جنګیالیو د ساتنې پر اړتیا په کې ټینګار شوی و. له دې سره سره، ولسي وګړي

په عمدي ډول په نښه کیږي او عامه ځایونه د بلواګرو بریدونو لپاره کارول کیږي. د دولت ضد عناصرو له خوا د هدفي وژنو په پایله کې ملکي تلفات په ۲۰۱۱ کال کې د ورته مودې په پرتله، له ۲۵۶ملکي مړينو او ۱۴۵ ملکي ژوبلو په درلودو سره ۹۳ سلنه لوړ شوي. د اکتوبر پر ۲۶ نېټه د فارياب ولايت په میمنه کې یوه ځانمرګي بریدګر په ځان پورې ترلي چاودیدونکي توکو ته د اختر د لمانځه پر مهال چاودنه ورکړه، چې د ولسي وګړو په ګډون يې ۴۱ خلک ووژل.

۲۶. د اګست له ۱ د اکتوبر تر ۳۱ پورې په وسله واله جګړه کې له ۳۵۵ څخه زیات ماشومان (د لږ تر لږه ۶۷ نجونو په ګډون) ژوبل او وژل شوي، چې زیاتره يې د هیواد په جنوبي او ختیځو سیمو کې رامنځ ته شوي. په دغو ارقامو کې د اکتوبر د ۴ نېټې پېښه شامله ده په کومه کې چې د غور ولايت په چغچران کې د یوې لیسې په دروازه د لاس جوړ چاودیدونکو توکو چاودنې د کارمند په ځیر یو شاګرد او زده کوونکي ټپي کړل چا چې د ښوونکي ورځ لمانځله. پر ښوونیزو او روغتیايي مرکزونو د بریدونو (۲۷ پېښې)، تښتونو (۵ پېښې)، د کم عمره اشخاصو ګمارنه (۴ پېښې) او د بشري مرستو د رسولو مخنیوي (۱۱ پېښې) په ګډون، د ماشومانو له حقونو جدي سرغړونې ثبت شوي. په بدخشان، خوست، ننګرهار او بامیانو ولایتونو کې د نجونو د ښوونځيو د سوځولو راپورونه ورکړل شوي.

۲۷. د ښځو په وړاندې د جدي تاوتریخوالي او د زیانمنوونکو دودیزو کړنو په اړه راپورونه جریان لري. د ولسمشر له خوا ورته دنده سپارل شوې د ښځو چارو وزارت د جندر د برابرۍ او د ښځو د ځواکمنتیا لپاره د ملګرو ملتونو د ادارې او یوناما په ملاتړ د پوهاوي د لوړولو کمپاینونه ترسره کړي څو د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی راکم کړي. دغې ادارې همدارنګه له نوموړي وزارت سره د تاوتریخوالي د ښځينه قربانيانو لپاره د سرپناه پروګرام په تطبيق او د سرپناه د مدیریت لپاره د معیاري عملیاتي طرز العملونو په جوړولو کې مرسته کړې څو د لوړ کیفیت خدمتونه او پروتوکولونه ډاډمن کړي او هغه کسان چې د مرستې په لټه کې دي وژغوري. موخه د ۲۰۱۳ کال تر پایه د ۲۹ سرپناوو جوړول دي. د ولسي جرګې د ښځو د کمیسیون په یوه ناسته کې چې د سپتمبر پر ۱۶ نېټه ترسره شوه، د عدلیې او ښځو چارو وزارتونو وزیرانو او د کورنیو چارو مرستیال وزیر سختې څرګندونې وکړې په کومو کې چې هغوي له "کور څخه د تېښتې" په تور د ښځو او نجونو په بند محکومول وغندل، د دې په استدلال سره چې په افغان قوانینو کې دغه ډول هیڅ جرم شتون نه لري. ځانګړي قانوني او د پالیسي اقدامات باید دا یقیني کړي چې دغه کړنه منع ده. د اکتوبر پر ۱۱ نېټه، د ماشومو نجونو نړیوالې ورځې په افغانستان کې له وخت څخه په مخکې موده کې د واده د دوامدارې کړنې په اړه د پوهاوي پر لوړولو پاملرنه متمرکزه کړه. د افغانستان د ۲۰۱۰-۲۰۱۱ کال د ګڼو شاخصونو د کلسټر له څیړنې سره سم کومه چې د ۲۰۱۲ کال په جون کې خپره شوه، له ۴۶ سلنه څخه زیاتې ښځې تر ۱۸ کلنۍ مخکې او له ۱۵ سلنه څخه زیاتې ښځې تر ۱۵ کلنۍ مخکې واده شوي، د دې واقعیت په پام کې نیولو سره چې په افغانستان کې د واده حد اقل عمر ۱۶ کالونه دي.

۲۸. د ایساف مرستندویه ځواکونه هغه تضمینونه/تصدیقونه ګوري کوم چې له نړیوالو نظامي ځواکونو څخه یو شمیر هغو مرکزونو ته د توقیفیانو د لیږد لپاره زمینه برابروي کوم چې د ملي امنیت د ریاست او افغان ملي پولیسو له خوا اداره کیږي. دغه ګام د افغانانو له خوا په ځينو هغو اداره کیدونکو توقیف ځایونو کې کومو ته چې د ایساف توقیفیان لیږدول شوي د شکنجې په اړه د نويو معلوماتو له تر لاسه کولو وروسته پورته کیږي. په تخار ولايت کې د ملي امنیت د ریاست د توقیف ځاي د مخکینۍ کتنې د یوې برخې په څیر او د شکنجې په اړه د نويو راپورونو له تر لاسه کولو وروسته، ایساف د تصدیق/تضمینونو موضوع مطرح کړه. یوناما خپلې هڅې جاري ساتلې څو د جګړې اړوند توقیفیانو سره چلند و ارزوي، چې د دغې موخې لپاره يې په ۱۶ ولایتونو کې د ملي امنیت د ریاست، د کورنیو چارو د وزارت، د افغان ملي پولیسو او عدلیې وزارت له خوا له اداره کیدونکو ۳۶ مرکزونو څخه لیدنې ترسره کړې.

۲۹. ولسمشر په ډاګه کړه چې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د غړیتوب په اړه پریکړې د ۲۰۱۱ کال له ډسمبر راهیسې ځنډيدلې، پر لار دي. د مدني ټولنې غړو په پریکړه نیولو کې د شفافیت د نشتون له امله اندېښنې څرګندې کړې. یوناما د یوې پیاوړې، ټول شموله پروسې او د وړتيا لرونکو ګمارنو لپاره مدافعه کړې.

## څلورم: د کابل پروسې تطبيق او د مرستو همغږي

۳۰. د دې لپاره چې د توکيو د دوه اړخيزې حساب ورکونې کاري چوکاټ عملي شي، دولت د شاخصونو لپاره د مفصلو عمل پلانونو د چمتو کولو رهبري اخيستې، د مرستو د مديريت پاليسي نهايي کوي او له نړيوالې ټولنې سره د همغږي تعامل لپاره د مرستو اړين جوړښت توضيح کوي. د سپټمبر پر ۳ نېټه، د وزيرانو شورا د ماليې وزارت له خوا يو وړانديز شوی جوړښت تصويب کړ. د همغږۍ او څارنې ګډ هيئت چې د افغان دولت او يوناما له خوا په ګډه رهبري کيږي، د دولت او نړيوالې ټولنې ترمنځ د پراخ ګډون او تعامل لپاره يو چتر ګڼل کيږي. د توکيو پر کاري چوکاټ په مشخص تمرکز سره، د ماليې وزارت په مشرۍ د رهبرۍ نوې کمېټه به د وزيرانو او سفيرانو په کچه غونډې ترسره کړي څو په ستراتيژيکه کچه دوه اړخيز ډيالوګ ته وده ورکړي. له دغې کمېټې سره به د مرستيال وزيرانو د تخنيکي کميټې او مرستندويه ادارو د مشرانو له خوا مرسته وشي، چې د هر انفرادي معيار په وړاندې پر پرمختګ متمرکز دی.

۳۱. د نويو جوړښتونو په معرفي کولو کې د يوناما سخت تعامل د دغو دوه کميټو په اړه د نړيوالې ټولنې د استازيتوب په اړه يو تړون تسهيل کړ. د ماليې وزارت له خوا د راغونډې شوې ډېټا پر بنسټ چې د کال په لومړيو کې وکتله شوه – پنځه مخکښ ډونران به په دغو کميټو کې چوکۍ ولري. د ۲۰۱۲ کال لپاره، دغه ډونران متحده ايالات، جاپان، اروپايي اتحايه، متحده شاهي او جرمني په ګوته شوي. سربيره پر دې، تر څلورو پورې استازي به له اجنډا، د ونډې د ظرفيت د پاليسۍ او د استازيتوب د اصولو سره سم په ځانګړې ډول انتخاب شي. د لومړي دور غونډو لپاره، دغه ډونران عبارت دي له استراليا، کاناډا او د اسکانديناوي ګروپ له يوه استازی څخه.

۳۲. د اکتوبر پر ۱۵ نېټه، دولت د توکيو د کاري چوکاټ له پنځو د دوو ساحو لپاره د عمل پلانونو تکرارونه برابره کړه: ممثله ولسواکي او عادلانه ټاکنې، او حکومتولي، د قانون واکمني او بشري حقونه. دا د نومبر د ۲۱ نېټې د تخنيکي کمېټې د لومړۍ ناستې او د ډسمبر د ۵ نېټې د رهبرۍ د کميټې د ناستې د تمرکز موضوعات وو. د ملي لومړيتوب لرونکو پروګرامونو (۸۰ سلنه تمويل)، او په بودجه کې د شاملې اجرا (۵۰ سلنه تمويل) په وړاندې د نړيوالو د ژمنو تطابق او د مرستو د مديريت د پاليسي تطبيق د پيچلو مباحثو موضوعات وو. دغه راز د لومړيتوب لرونکو پروګرامونو له ۲۲ هغو د ۶ په اړه سلا مشورو دوام درلود کوم چې لا تر اوسه نه دي تصويب شوي: شفافيت او احتساب؛ قانون او عدالت د ټولو لپاره؛ اوبه او طبيعي زيرمې؛ موثره او اغيزمنه حکومتولي؛ هر اړخيز کرنيز توليدات؛ او د انرژي ملي رسوونه. وروستي څلور ياد شوي پروګرامونه د سلا مشورو په وروستيو پړاونو کې دي.

۳۳. د اکتوبر پر ۱۷، د بهرنيو چارو وزارت د ملګرو ملتونو مقيم او د بشري مرستو همغږي کوونکي ته خبر ورکړ چې د ملګرو ملتونو د پراختيايي مرستو د اوسني کاري چوکاټ ۲۰۱۰-۲۰۱۳ يو کلن تمديد تاييد شو. د ملګرو ملتونو د پراختيايي مرستو د راتلونکي کاري چوکاټ زماني موده به د دولت د ۲۰۱۵-۲۰۲۴ د ليږد لسيزې سره په سمون کې، په ۲۰۱۵ کال کې پيل شي. د نومبر پر ۱۴ او ۱۵ نېټه، د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام اسوشيئټ اډمينسټرېټور ربيکا ګريسپن په کابل کې وه څو دولتي همغاړو، د ملګرو ملتونو له هيوادني ټيم او مرستندويه ټولنې سره د اوسنيو چارو او تر ۲۰۱۴ کال وروسته اجنډا په اړه ګډون او تعامل وکړي. هغې د بشځو چارو له وزارت سره د ملګرو ملتونو د پرمختيای پروګرام په استازيتوب يو تړون لاسليک کړ څو هغه سترې پروژې عملي کړي چې د وزارت د ظرفيت پر لوړولو او د افغان ميرمنو پر حقوقي او اقتصادي ځواکمنتيا تمرکز کوي.

## پنځم: حکومتولي او د قانون واکمني

۳۴. د سپټمبر پر ۲۰ نېټه، ولسمشر د سيمه ييزو ارګانونو د خپلواکې ادارې د ارزونې په تعقيب په پراخه کچه په ولايتي مشرتابه کې د بدلون اعلان وکړ. د تخار، هلمند، بغلان، فارياب، وردګو، لوګر، بادغيس، نيمروز او لغمان واليان بدل شول.

۳۵. د نومبر پر ۲۸ نېټه، له اداري فساد سره د مبارزې د څارنې او ارزونې ګډې خپلواکې کمېټې د کابل بانک د ناکامۍ په اړه د څېړنې پايلې خپرې کړې. کمېټه دې پايلې ته ورسيده چې افرادو د پاليسي له تشې په ګټې اخيستنې سره نږدې ۱ ميليارد امريکايي ډالر خپلو جېبونو ته اچولي. په سپارښتنو کې په مالي سکټور کې د تنظيموونکو ادارو ترمنځ پراخه همغږي او له ځواک څخه د ناوړه ګټې اخيستنې، سياسي لاس وهنې او معافيت په څير د سيستماتيکو موضوعاتو حل کول شامل وو. دغه څېړنه د مالي وزارت په غوښتنه ترسره شوې او د جنايي څېړنو برخه نه وه.

۳۶. د اکتوبر پر ۱۳ نېټه، ولسي جرګې د لوي څارنوال د دفتر د جوړښت، دندو او صلاحيتونو په اړه قانون تصويب کړ. د ولسي جرګې د قضايي چارو په کميسيون کې د جزايي اجرااتو د قانون د مسودې په اړه مباحثې پيل شوې. د قانون او عدالت د ټولو لپاره په اړه د لومړيتوب لرونکي ملي پروګرام په نهايي کولو کې د دوامدار پاتې راتلو په اړه د ډونرانو د نه رضايت په پايله کې اروپايي اتحادېې په ښکاره په ډاګه کړه چې له دغه سکټور سره خپل راتلونکي تمويل تر هغې ځنډوي تر کومه چې دغه پروګرام نه وي تصويب شوی. د دغه پروګرام پيچلتوب او وسعت ننګونې رامنځ ته کړي او يوناما د ۲۰۱۳ کال په لومړيو کې د پروګرام د تصويب په موخه د دولت او ډونرانو ترمنځ همکاري کوي.

۳۷. يوناما او د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام د قانون د واکمنۍ په اړه د ملګرو ملتونو د نړيوالو رابط شخص په څير خپله نږدې همکاري جاري ساتلې. دوي له دولت سره مرسته کړې چې د قانون واکمني او جندر د موضوعاتو لومړيتوب په ګوته کړي او دا چې په مدني ټولنه او دولت کې د فعالو ګډونوالو په څير د ښځو د غوره ځواکمن کولو لپاره پاليسي او پروګرام جوړونه سره همغږي کړي. دغه راز په ولايتي کچې هم تعامل شتون درلود څو له چاراوکو سره د قانون د واکمني د اصلاحاتو اړوند فعاليتونو لپاره د ډونر د تمويل په بديلو لارو چارو کې مرسته وکړي.

## شپږم: پراختيا او بشري مرسته

۳۸. وروستي ارقام په ډاګه کوي چې په زياتره ولايتونو کې د خوړو خونديتوب د پام وړ ښه شوی، چې زياتو اورښتونو د غلجاتو په لوړ توليد کې مرسته کړې (وړاندوينه شوې چې په ۲۰۱۲ کال کې به ۶.۳ ټنو ته ورسيږي). له دې سره سره، د خوړو نا خونديتوب او خوار ځواکي د شا و خوا ۶۵۰۰۰۰ وګړو لپاره په لوړه کچه پاتې ده، په تېره بيا په نورستان او بدخشان ولايتونو کې چيرې چې د خوړو د مصرف د پام وړ تشو او په لوړه کچه د خوار ځواکۍ په اړه راپورونه ورکړل شوي. د اټکلونو له مخې په ۱۳ ولايتونو کې به وګړي په نا رسمي ښاري ميشت ځايونو او لرې پرتو سيمو کې د ژمې له سخت ګواښ سره مخ شي، د دې په شونتيا سره چې را روان ژمی به دغه وضعت لا پسې پيچلی کړي. د افغانستان د طبيعي پېښو سره د مبارزې اداره د ملګرو ملتونو له ادارو او د بشري مرستو له نورو فعالينو سره يو ځاي کار کوي څو کافي تياری ډاډمن کړي چې ځانګړی تمرکز يې د ماشومانو د مخنيوي وړ مړينو پر مخنيوی دی. د تر ټولو زياتو زيانمنيدونکو وګړو معلومول روان دي او د خوړو نړيوال پروګرام لا وار د مخه د کورنۍ په کچه ۱۰۰۰۰ ټنه خواړه ځای پر ځای کړي، څو ډاډمن کړي چې زيانمنيدونکې کورنۍ کافي زيرمې لري.

۳۹. د اکتوبر تر ۳۱ پورې، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنرۍ له خوا ۴۵۹۲۰۰ وګړي (۷۱۸۰۰ کورنۍ) د داخلي بېځايه شويو په څير ارزول شوي. د بېځايه کيدنې اغيز په ملي کچه تجربه شوی: د بېځايه شويو ۳۰ سلنه يې په جنوبي سيمو ، ۲۶ سلنه يې په لويديځو سيمو او ۲۱ سلنه يې د هيواد په ختيځو سيمو کې ځای پر ځای شوي. جګړه د بېځايه کيدنې مهم لامل دی، په ۲۰۱۲ کال کې تازه بېځايه شويو (۵۸۶۰۰ اشخاص) جګړې د هغوي د بېځايه کيدنې د لومړي لامل په څير په ګوته کړی. زياتره هغه يې په لويديځو سيمو کې بېځايه شوي، چې دغه سيمې تر ټولو په لوړه کچه د داخلي بېځايه کيدنې (۱۴۱۱۰ اشخاص) شاهدې وې. د ۲۰۱۲ کال پر مهال په کونړ ولايت کې لږ تر لږه ۵۰۰۰ افغانان (۸۰۰ کورنۍ) بېځايه شوي او بشري مرستو ته يې اړتيا درلوده.

۴۰. د اکتوبر پر ۳ نېټه، د افغان کډوالو لپاره د حل لارو د ستراتيژۍ، څو له خپلې خوښې راستنيدنې، د دوامدار ادغام او له کوربه هيوادونو سره د مرستې ملاتړ وشي، د رهبرۍ کمېټې لومړۍ څلور اړخيز ناسته په جنيوا کې ترسره شوه. د

کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ، افغان دولت، د ایران اسلامي جمهوریت او پاکستان د هغو لارو چارو په اړه خبرې اترې ترسره کړې څو د حل لارو د ستراتیژۍ د دریو ستنو/برخو موثر تطبیق ډاډمن کړي: د خپلې خوښې د راستنیدنې لپاره دوامدار ملاتړ، په افغانستان کې په پایښت لرونکې ادغام کې پانګونه او له کوربه هیوادونو سره مرسته. په جینوا کې اړونده سلا مشورې چې کلیدي شریکباني په کې شامل وو، د حل لارو د ستراتیژۍ د ګڼ بعدیزې تګلارې لپاره د پیاوړي ملاتړ د څرګندونو لامل شوې، کومه چې د بیرته راستنیدونکو چې د افغانستان د ټولو وګړو نږدې یوه ربع جوړوي د ژوندانه د ښه کولو لته کوي، په داسې حال کې چې په همهالې ډول د هغو ګاونډیو هیوادونو لپاره مناسب ملاتړ برابروي څوک چې لا اوس هم د زیات شمیر افغان کډوالو لپاره ساتنه برابروي. سربیره پر دې، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري د دریو اړخیزو کمیسیونونو ناستې تسهیل کړې – په سپتمبر کې له افغانستان او پاکستان سره، په ډسمبر کې له افغانستان او د ایران له اسلامي جمهوریت سره – څو د خپلې خوښې راستنیدنې ستراتیژیکو او عملیاتو اړخونو او د ایران په اسلامي جمهوریت او پاکستان کې د کډوالو دوامدار وضعیت ته رسیدګي وکړي.

۴۱. د سپتمبر پر ۲۷ نېټه، د "له راتلونکې نسل سره زموږ ژمنه: له ګوزڼ/پولیو څخه د پاکې نړۍ میراث" تر عنوان لاندې په نیویارک کې د لوړې کچې په یوه ناسته کې ولسمشر په ډاګه کړه چې د هغه حکومت به د موجوده منابعو سره سم هر ممکنه هڅه ترسره کړي څو په افغانستان کې پولیو له منځه یوسي. په دغې ناسته کې د هغو هیوادونو مشران چې پولیو په کې لا اوس هم پاتې ده، ډونران، پرمختیایي شریکباني او رسنۍ سره راغونډ شوي وو څو په ټوله نړۍ د پولیو د پاتې قضیو د له منځه وړلو اړتیا ته پاملرنه راجذب کړي. د سپتمبر پر ۲۹ نېټه، د عامې روغتیا وزارت د روغتیا له نړیوالې ادارې سره یو ځای د ۲۰۱۲-۲۰۲۰ د روغتیا او تغذیې ملي پالیسي پیل کړه، چې لومړیتوبونه وضع کوي څو په اوږد مهال ډول د خدمتونو پایښت لرونکې برابرونه ډاډمنه کړي. د سرمنشي د هرې ښځې هر ماشوم د نوښت د یوې برخې په څیر، د افغان قابلګۍ په اړه راپور د اکتوبر پر ۳۱ نېټه نهایي شو، چې په هیواد کې د قابلګۍ په اړه د پوهې د موجوده وضعیت په اړه تفصیلي معلومات وړاندې کوي او دا به د روزنو د پلان او منابعو د پراختیا لپاره وکارول شي. د نومبر پر ۱۲ نېټه، دولت او د هغه پراختیايي شریکانو د هیواد د پوهنې د ګډ سکتور بیا کتنه تصویب کړه. د بشري منابعو د پراختیا هئیت، د پوهنې د سکتور لپاره د بین الوزارتي همغږۍ له ارګان سره د دغه تمرین په ترسره کولو کې د یونسکو له خوا مرستې شوې. دغې کتنې وموندله چې د داخلي منابعو د بسیجونې لپاره تخنیکي ظرفیت او شونتیاوې څو ننګونې رفع کړي، کمزوري پاتې دي.

۴۲. د روغتیا د نړیوالې ادارې له خوا نویو معلوماتو په ډاګه کړه چې د ۲۰۱۲ کال په لومړیو ۱۰ میاشتو کې ۵۴۰ روغتیایي مرکزونو د نا امنۍ یا د تمویل د نشتون له امله د خپلو فعالیتونو ځنډولو ته اړ شوي، چې په ۲۰۱۱ کال کې د ورته مودې په پرتله ۴۰ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. دا د ۲۶۰۰ مرکزونو له شل سلنې سره مساوي ده چې په هیواد کې مختلف روغتیایي خدمتونه برابروي، چې د غیر فعالو مرکزونو زیات شمیر هغه یې د هیواد په جنوبي سیمو کې دي چیرې چې د ۵۰ او ۶۰ سلنه ترمنځ نفوس بنسټیزو روغتیایي خدمتونو ته ډیر محدود یا هیڅ لاس لري.

۴۳. د هغوی په دولسمه ناسته کې چې ډسمبر له ۳ تر ۷ نېټې په جنیوا کې ترسره شوه، د پرسونل ضد ماینونو د کارونې د مخنیوي، زیرمه کولو او لیږد او د هغوی د له منځه وړلو د کنوانسیون غړو هیوادونو د افغانستان لپاره یو تمدید تایید کړ څو د دغه کنوانسیون له مخې خپل مکلفیتونه پوره کړي. اوس مهال ۶۷۰۰۰۰ افغانان په ۵۰۰ میترۍ کې نږدې د ماینونو ساحو ته ژوند کوي چې له ۱۸۰۰ څخه زیاتې کورنۍ پې اغیزمنې کړي. د افغانستان لپاره هدف دا دی چې ۲۰۲۳ پورې له ماینونو څخه پاک اعلان شي کوم چې به یوه د پام لاس ته راوړنه وي ځرنګه چې هغه پر ماینونو د نړۍ یو تر ټولو ککړ هیواد ګڼل کیږي.

۴۴. د بشري خدمتونو له وړاندې کولو سره مله ګواښونه لا اوس هم لوړ دي. د نظامي عملیاتو دوام، له جګړې څخه پاتې شوني چاودیدونکي توکي او وخت نا وخت نښتې په منفي ډول د ملکیانو پر ساتنه او د بشري مرستو پر وړتیا اغیز کړی چې په خوندي ډول لاس رسی تر لاسه او زیانمنیدونکو وګړو ته مرستې ورسوي.

## اووم: له نشه يي توکو سره مبارزه

۴۵. د سوداګريزو بنګو د کښت او توليد د ۲۰۱۱ کال په څېړنه کې چې د راپور ورکولو په موده کې خپره شوه، د دې راپور ورکړل شوی چې په ۲۰۱۱ کال کې په افغانستان کې له بالقوه ۱۳۰۰ ټنو حاصل سره پر بنګو کښت شوې ټولټال ځمکه ۱۲۰۰۰ هکتاره وه. په ۲۰۱۰ کال له ۴۷۰۰۰ څخه په روان کال کې ۶۵۰۰۰ کورنيو بنګ کرلي. له نشه يي توکو سره د مبارزې د وزارت او د د نشه يي توکو او جرمونو په اړه د ملګرو ملتونو دفتر ګډې څېړنې د کوکنارو او بنګو د کښت ترمنځ څرګند جغرافيايي تړاو په ډاګه کړ، د بنګو کرونکې نږدې دوه پر درې برخه کورنۍ (۵۸ سلنه) د راپورونو له مخې د بنګو تر کښت په وروسته موسم کې کوکنار کښت کوي. دريمه برخه ګروندګرو څرګنده کړه چې هغوي بنګ د پلور د لوړ قيمت له امله کښت کوي، چې تر ټولو د ښه کيفيت لرونکو قيمت يې آن درې برابر لوړ وي، چې په ۲۰۰۹ کې د هرې کيلو قيمت له ۳۵ امريکايي ډالرو څخه په ۲۰۱۱ کې ۹۵ امريکايي ډالرو ته لوړ شوي.

۴۶. په ۲۰۱۲ کال کې د کوکنارو کښت ۱۸ سلنه لوړ شوی، سره له دې چې د بوټو ناروغۍ په حاصل کې د کمښت لامل شوي. د ۲۰۱۲ کال د کوکنارو ګډه سروې چې له نشه يي توکو سره د مبارزې د وزارت او د نشه يي توکو او جرمونو په اړه د ملګرو ملتونو له خوا ترسره او په نومبر مياشت کې خپره شوه، په کښت کې په ۲۰۱۱ کې له ۱۳۱۰۰۰ هکتارو څخه په ۲۰۱۲ کې ۱۵۳۰۰۰ هکتارو ته لوړوالی ثبت کړی. د هغو ولايتونو شمير چې کوکنار په کې کرل کيږي کال-په-کال د ۱۷ هغو په شمير کې ثابت پاتې دی. د بوټي ناروغۍ په کښت کې زياتوالی راکم کړی. وروستيو شميرو د ۲۰۱۱ کال په پرتله په حاصلاتو کې ۳۸ سلنه کموالی په ډاګه کړ، له ۵۸۰۰ ټنو څخه ۳۶۰۰ ټنو ته. د هر هکتار پر سر د توليد شوی ناخالص عايد اوس ۴۶۰۰ امريکايي ډالر، په عمومي ډول د مارکيټ ټول ارزښت ۷۰۰ مليونه ډالر، يا د افغانستان د ناخالص کورني توليد ۴ سلنه ارزول شوی.

۴۷. د افغانستان او ګاونډيو هيوادونو لپاره د نشه يي توکو او جرمونو په اړه د ملګرو ملتونو د سيمه ييز پروګرام تر ملاتړ لاندې، د افغانستان او ايران ترمنځ د پولې د اړيکو د دفتر لومړۍ ناسته د سپتمبر پر ۲۴ نېټه د ايران په تاياباد کې ترسره شوه. د سپتمبر پر ۲۷ او ۲۸ نېټه، د همکارۍ او له نشه يي توکو سره د مبارزې د روزنيز پروګرام د کيفيت د پياوړي کولو په اړه يو ورکشاپ عشق اباد او يو بل يې د اکتوبر پر ۳ او ۴ په الماتي کې ترسره شول. د اکتوبر پر ۱۰ او ۱۱ نېټه، په لويديځه او مرکزي اسيا کې د شتمنۍ په بيرته ترلاسه کولو کې د نړيوالې همکارۍ په اړه لومړي سيمه ييز ورکشاپ د اقتصادي همکارۍ له سازمان سره په ګډه په تهران کې تنظيم شو. د اکتوبر پر ۱۷ نېټه، له افغانستان، قرغزستان او تاجکستان څخه د لوړ پوړو چارواکو دويمه درې اړخيزه ناسته په بشکک ترسره شوه، چې د حقوقي چوکاټونو د ښه کولو، د پولې د اړيکو د دفترونو د تاسيسولو د ملاتړ، د ګډو عملياتو د ترسره کولو او د مکالماتو او ارتباطاتو د يوه مرکز په څېر د مرکزي اسيا د معلوماتو او همغږۍ د سيمه ييز دفتر د کاروني په اړه د تړون شاهده وه.

۴۸. د وزيرانو د کچې يو سيمه ييز کنفرانس چې موخه يې له نشه يي توکو سره د مبازې د هڅو په اړه د همکارۍ پياوړې کول وه، د نومبر پر ۱۲ او ۱۳ نېټه په اسلام اباد کې ترسره شو. په وړانديز شويو نويو اقداماتو کې له نشه يي توکو سره د مبارزې د ملي ادارو ترمنځ د هاټ لاين شميره او د تماس سيمه ييز ګروپ چې د لوړ پوړو چارواکو په کچه په کلني ډول به سره ناسته ترسره کړي، شامل و.

## اتم: د ماموريت ملاتړ

۴۹. يوناما په اوسني او پيشبيني شوي سياسي، امنيتي او مالي چاپيريال کې په غوره ډول د سپارل شويو دندو د ترسره کولو لپاره د ماموريت په بيا تشکيل او تنظيم کې پرمختګ کړی. دغه هڅې د هر اړخيزې بيا کتنې د پايلو له خوا راهنمايي شوې کومه چې د امنيت شورا د ۱۹۷۴ (۲۰۱۱) پريکړه ليک په تعقيب ترسره شوې، چې په تعقيب يې د شورا د ۲۰۴۱ (۲۰۱۲) پريکړه ليک له مخې ماموريت تمديد او د عمومي اسامبلې په ۶۶/۲۴۸ پريکړه ليک کې د ځانګړو سياسي ماموريتونو لپاره د تمويل کچې تاييد شوې.

۵۰. د یوناما د تړل کیدو لپاره د پلان شویو نهو ساحوي دفترونو څخه وروستیو پنځو هغو یې – دایکندي، اروزګان، تخار، سرپل او کونړ – خپل عملیات درولي. په اروزګان کې د دغه دفتر ودانۍ د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو دفتر ته سپارل شوې، په داسې حال کې چې د کونړ دفتر افغان چارواکو ته د ځایي پوهنتون دکارونې لپاره سپارل شوی. د کم ولایتي حضور په پام کې نیولو سره په داخل کې رسیدنه او په هیواد کې منظم سفرونه د نوي شوي ټینګار تمرکز و، چې زما ځانګړې استازې له ننګرهار، بامیانو، هرات او فاریاب ولایتونو څخه لیدنې ترسره کړې. د قراردادونو له فسخې سره مل د دفترونو تړل کیدل او د ۲۰۱۳ کال لپاره په پوستونو کې له پیشبیني شوي تنقیص څخه مخکې پر ګمارنې محدودیت، په استثنایي ډول په لوړه کچه د خالي پوستونو لامل شوي.

۵۱. د دې ډاډمنول چې د ملګرو ملتونو ټول مرکزونه/اسانتیاوې د خوندیتوب معیارونه پوره کوي، دوام درلود. په بلخ او بامیانو ولایتونو کې د نویو ودانیو ودانیزې چارې اوس بشپړې شوې او نویو ځایونو ته لیږد جریان لري. د ګمرکاتو له لارې د محافظاتي امنیتي توکو د لګښتونو په تصفیې او د مخابراتو وزارت له خوا د مخابراتي سامان الاتو په پروسس کې ځنډ د ماموریت پر ورتیا اغیز کړی ځو خپل فعالیتونه په وخت سره ترسره کړي. د اکتوبر پر ۱۴ نېټه په بامیانو کې د یوې چورلکې د سختې/اضطراري ناستې سربېره چې له امله یې سخت زیان رامنځ ته شو، د ملګرو ملتونو پر الوتکې د سپکو وسلو د ډزو له امله پروازونه اخلال شوي. د اکتوبر پر ۱۰ نېټه، ولسمشر یو فرمان صادر کړ په کوم کې چې په کابل کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام اوږد مهاله مرکزي ته د ځای بدلولو امر شوی، چې د یوې خوندي مناسبې نوي ودانۍ پېژندلو اړتیا رامنځ ته کوي.

## نهم: ملاحظات

۵۲. زه د هغه جدیت هرکلی کوم چې افغان دولت او نړیوالې ټولنې د توکیو په کنفرانس کې د ترسره شویو ژمنو د عملي کولو په وړاندې وښود، کومې چې د هیواد لپاره د ملکي مرستو د اړینو کچو د برابرولو تداوم لپاره خورا مهمې دي. په کابل کې جدي تعقیبونه دا یقیني کوي چې د توکیو د دوه اړخیزې حساب ورکونې چوکاټ د راتلونکې تعامل په مرکز کې دي، چې د پراختیا سترې همغږۍ او په توقعاتو او لومړیتوبونو کې تطابق ته وده ورکوي. زه دولت ته د مرستو لپاره د اړین جوړښت په بیا تنظیمولو کې د هغه مشرتابه ته تبریکي ورکوم او خوښ یم چې یوناما د یوه تسهیلوونکې همکار په څیر خپل ارزښت په ډاګه کوي.

۵۳. ډونرانو پر دې ټینګار کړی چې د تیرې لسیزې په اوږدو کې د بشري حقونو په تیره بیا د ښځو او نجونو هغو په وده کې د تر لاسه شویو لاسته راوړنو منسجم کول او پراخول د هغوي د پایښت لرونکې تعامل او ګډون مرکزیت ګڼل کیږي. د کاري چوکاټ په عمل پلانونو او د لومړیتوب لرونکو ملي پروګرامونو کې د جندر د موضوعاتو رانغاړل، له نشه یي توکو سره د مبارزې د هر اړخیزې موضوع ته د مناسبې پاملرنې په ډاډمنولو سربېره، د پایښت لرونکې پراختیا او حکومتولۍ د ملاتړ لپاره خورا مهم شمیرل کیږي. ډونرانو هم په کلکه په دې ټینګار کړی چې د حکومتولۍ د توافق شویو تدابیرو په اړه د محسوس پرمختګ اړتیا ده. د دې په یاد کې ساتل مهم دی چې د دوه اړخیزې حساب ورکونې مفکوره د دې غوښتنه کوي چې نړیواله ټولنه په خپل وار په بودجه کې د شامل تمویل له تنظیم سره د خپلو نا پوره شویو ژمنو په تړاو ستر پرمختګ ډاډمن کړي.

۵۴. د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو لپاره د ټول اړخیز مهال ویش خپرونه چې په ۲۰۱۴ کال کې به ترسره شي، یو مثبت ګام ګڼل کیږي. د توکیو د دوه اړخیزې حساب ورکونې د کاري چوکاټ شاخصونه اوس د یوه پیاوړي انتخاباتي جوړښت چې په شفاف ډول یې وده کړې وي، غوښتنه کوي. په دې کې له داسې بحثونو سره چې د پرمختګونو په اړه د اجماع رامنځ ته کولو لامل کیږي کومه چې د ټاکنو باور، شمولیت او پایښت ډاډمنوي، د دوو انتخاباتي ځنډېدلو قوانینو پاس کول شامل دي. دغه راز افغان رهبري ته هم اړتیا ده چې د زیات شمیر اړوند ادارو ترمنځ د "بریښنایي تذکرو" هڅې همغږې او پر مخ یوسي، که چیرې دغه ملي پروژه د ۲۰۱۴-۲۰۱۵ انتخاباتي دورې سره مرسته کوي. زه

د سیاسي ګوندونو او مدني ټولنې د رغنده ګډون هرکلی کوم. د ټاکنیزو اصلاحاتو په اړه واقعي سپارښتنې او په ښه ډول مبتنې مباحثې شفافیت او شمولیت ته وده ورکوي او باید د پریکړې کولو لپاره بنسټ جوړ کړي. رسنۍ هم د پراخ ډیالوګ په تسهیلونه او د ورځې موضوعاتو په منعکس کولو کې مهم رول لري.

۵۵. د استانبول پروسې په زیاتیدونکې ډول د عملي تمرکز په تیره بیا په عمل پلانونو کې د باور جوړونې تدابیرو د پرمختګ تعبیرول، هر کلی کیږي او باید محسوسې پایلې ولري. زه د هغو غړو هیوادونو، ملاتړو هیوادونو او سیمه ییزو ادارو د فعال تعامل قدرداني کوم چې په دغه مهم کار کې ګډون کوي او د ملګرو ملتونو د دوامداري همکارۍ او ملاتړ ژمنه کوي. د سیمه ییزو فعالینو له خوا د مشترکو اندېښنو په اړه د دوه اړخیز او څو اړخیز تعامل پراخول یو مثبت پرمختګ دی.

۵۶. په نومبر میاشت کې د سولې د عالي شورا له خوا له اسلام اباد څخه لیدنې د دواړو ګاونډیو ترمنځ د اړیکو د غښتلي کولو لپاره نوي تحرک رامنځ ته کړی. اوږد مهالی او ثابت تعامل د مشترک درک د جوړولو او په نهایي ډول د دوه اړخیزو حل لارو په رامنځ ته کولو کې خورا مهم ګڼل کیږي. لکه څرنګه چې د سولې د عالي شورا او د پاکستان دولت له خوا په ګډې اعلامیې کې پیژندل شوي، له دیني تاسیساتو سره تعامل کولی شي د مخ په زیاتیدونکې سخت دریځې په حل کولو کې مرسته وکړي. نوموړې شورا د افغانانو په مشرۍ هڅو کې مهم رول لري څو د سولې او پخلاینې لپاره د باور مساعد شرایط رامنځ ته کړي، او ملګري ملتونه له اړتیا سره سم د مرستې وړاندې کولو لپاره چمتو دي. خوښ یم چې دولت د یوناما له هغې ارادې سره خپل ملاتړ په ډاګه کړ چې غواړي دوه بشپړونکې ملي ډیالوګ پلان کړي.

۵۷. د راپور ورکولو په موده کې په ملکي تلفاتو کې زیاتوالی د سترې اندېښنې وړ دی، د دې په پام کې نیولو سره چې جګړه لا اوس هم افغان وګړو ته د نه منلو زیان اړوي. بلواګر د یوه عمدي تاکتیک په څیر ټولنې او افراد تهدیدوي څو خپل نفوذ او کنټرول پراخ کړي، او هغه اشخاص په نښه کوي څوک چې د هغوی واک یا نظریې ننګوي. د ولسي وګړو په نښه کول دواړه دیني قیودات او نړیوال قانون نقض کوي. په ځانګړي ډول د لاس جوړ چاودیدونکو توکو فشاري ماینونه، چې د پرسونل ضد ځمکنیو ماینونو په څیر کار کوي، د نړیوال قانون له مخې منع شوې وسلې ګڼل کیږي. زه د هغوی د کړونې د سملاسي منع لپاره غوښتنې بیا تکراروم او د بلواګرو پر مشرانو غږ کوم چې په ښکاره دغه ډول تاکتیکونه لغوه کړي. په داسې حال کې چې په طالبانو پورې اړوند عامه اعلامیو د دغو موضوعاتو په اړه د ملګرو ملتونو ډیټا ننګولې، زه د خپلو معلوماتو او د ملکیانو د څرګندو حقوقي تعریفونو د کارونې ترڅنګ ولاړ یم. له دې سره سره، زه له ټولو خواوو سره د دوامدار تعامل هرکلی کوم څو پوهاوي رامنځ ته او هغه حل لارې په ګوته کړي چې له دغې انساني ناورین سره مبارزه وشي.

۵۸. څرنګه چې نړیوالو نظامي ځواکونو خپل حضور راکم کړی، دغه کار به له ځان سره اقتصادي پایلې ولري. نو له همدې امله دا خورا مهمه ده چې هڅې دوه برابره پایښت لرونکې کاري او د معیشت فرصتونه رامنځ ته کړي. د منظم لیږد په یقیني کولو کې د دولت د مشرتابه زیاته مرسته ډیره مهمه ده. ملګري ملتونه به له اړتیا سره سم داخلي چارواکو ته د چارو په منظم لیږد کې مرسته وکړي څو بالقوه منفي اغیزې راکمې کړي. په داسې حال کې چې ننګونې باید له پامه ونه غورځول شي، لیږد ښایي دغه راز د مرستو د توازن لپاره فرصت برابر کړي، دا تضمین کړي چې هغه پر اړتیاوو متمرکزې او له منل شویو ملي اهدافو سره په تطابق کې دي.

۵۹. د بشري مرستو عمومي تمویل په ۲۰۱۱ کال له ۹۰۰ میلیونه امریکایي ډالرو څخه په ۲۰۱۲ کال کې ۴۸۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته (نږدې ۵۰ سلنه) راکم شوی، په داسې حال کې چې عمومي پراختیایي مرسته په ۲۰۱۰ کې له ۴ بیلیونه امریکایي ډالرو څخه په ۲۰۱۲ کال کې ۶.۳ بیلیونه امریکایي ډالرو ته لوړه شوې. زه د ډونرانو لپاره په افغانستان کې د بشري مرستو د هیوادنۍ ټیم د هغې غوښتنې ملاتړ کوم چې د هغوی د رسمي پراختیایي مرستو لږ تر لږه ۱۰ سلنه د بشري مرستو لپاره ځانګړې کړي. د افغانستان لپاره د بشري مرستو د ۲۰۱۳ کال د عمل مشترک پلان چې تر ټولو سختې بشري اړتیاوې او د ژوند ژغورنې او لومړیتوب لرونکې منځګړیتوبونه په ډاګه کوي، تمه کیږي چې په ډسمبر کې به پیل شي. دغه پلان به د دغه نه توازن د حل او په ۲۰۱۳ کال کې شامل د بشري مرستو د هدف د ملاتړ لپاره یو

فرصت برابر کړي، چې د جګړې اړوند اړتیاوو ته په لا زیات موثر ډول د ځواب ویلو له لارې د ملکي وګړو له ساتنې سره مرسته کوي.

۶۰. زما د ځانګړي استازي مرستیال، مقیم او د بشري مرستو همغږي کوونکی او د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام مقیم استازی مایکل کیتنګ خپله دنده د نومبر پر ۱۰ نېټه بشپړه کړه. زه له هغه څخه د یوناما او د ملګرو ملتونو د هیوادني ټیم د کار په تسهیلونه کې د هغه د رهبرۍ او ډیپلوماسۍ مننه کوم، په تېره بیا د توکیو پروسې د مذاکراتو په اړه. د هغه ځای ناستی مارک باودین د نومبر پر ۱۵ نېټه کابل ته ورسید. زه د هغه لپاره په دغې نوې او ننګونکې دنده کې د بریا هیله کوم. په دې سربیره، غواړم یو ځل بیا په افغانستان کې د ملګرو ملتونو له ټولو داخلي او نړیوالو کارمندانو او زما له ځانګړي استازي یان کوبیش څخه د افغان وګړو د ملاتړ لپاره د هغوي د دوامدارې سرخندنې او کار مننه وکړم.